دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اوونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او مؤمنان چې کله هم د الله او دهغه د رسول په لور وبلل شي چې رسول دهغوی په مینځ کې فیصله وکړي نو وایي: مونږ بلنه واوریده، او ومو منله، او خلاصون د همدوی په برخه دی. او هغه کسان چې د الله او رسول منه وکړي او له الله نه وډار شي او له سرغړونې څخه یې ځان وژغوري نو همدوی بریمن دي. (النور: ۵۱ - ۵۲ آیتونه)

درس حدیث

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:
څوک چې د خلکو ترمنځ د روغې جوړې کارونه کوي نو الله تعالی دهغه هر کار جوړوي او دهغه د هرې خبرې په بدل کې ورته د یو غلام د آزادولو ثواب ورکوي او مخکیني ګناهونه یې بخښي. (ترغیب)

شهادت　دریم کال، ۴۱ مه ګڼه، پرله پسې ۱۴۱ مه ګڼه　چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د مرغومی ۲۱ مه　د۱۴۳۳ هـ ق د صفر ۱۸ مه　د۲۰۱۲ م د جنوری ۱۱ مه

قبل از آغاز مذاکرات قطر، طالبان باید آتش بس را قبول کنند

ACKU

حکومت افغانستان هیچ منطقه را تحت کنترول طالبان نخواهد گذاشت

کابل، رسانه ها:
مقامات حکومت افغانستان می گویند، قبل از آنکه مذاکرات صلح با طالبان در قطر آغاز گردد، طالبان باید آتش بس کنند.
سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان ایمل فیضی می گوید، قبل از آنکه مذاکرات با طالبان در قطر آغاز شود، آنها باید به یک آتش بس توافق نمایند.
بر اساس گزارش آژانس خبری اسوشیتدپرس، ایمل فیضی سخنگوی رییس جمهور کرزی همچنان گفته است که، حکومت افغانستان هیچ منطقه را تحت کنترول طالبان نخواهد گذاشت.
سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان این شرایط را چند روز بعد از آن مطرح کرد که طالبان اعلان کردند، دفتر سیاسی شان را در در دوحه مرکز قطر می گشایند.
این اعلان طالبان اولین اقدام آنها برای ختم جنگ ۱۰ ساله در

بقیه در صفحه ۴

د برلین غونډې اندېښنې راپارولې دي

ډلو د مشرانو غونډې د خلکو اندېښنې راپارولي. ځکه دغه کسان ناڅرګنده او مرموزه توګه سره راټول شوي دي.
د جنرال دوستم، محمد محقق او احمد ضیا مسعود په ګډون یو شمېر کسان په تېرو دوه ورځو د جرمني په برلین ښار کې د امریکا د مشرانو جرګې او د جرمني له استازو سره په یوه غونډه کې ګډون کړی.
په قطر کې طالبانو ته د رسمي دفتر د پرانیستلو د خبرو له تودېدو سره په برلین کې د امریکا د مشرانو جرګې او جرمني له استازو سره د یو شمېر افغان مشرانو لېدو کتو ګونګسي راپارولي دي، او دغه راز غونډې د
بی بی سی:
د حکومت سیاسي مخالفانو له طالبانو سره د امریکا پر مذاکراتو شک ښود.
د افغانستان د سیمه ایزو مطالعاتو مرکز وایي وایي د جرمني په برلین کې د یو شمېر افغان

پاتې ۴ مخ

ایران یک سلسله تخلفات مرزی را مرتکب شده است

کابل، رسانه ها:
وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل افغانستان در نظر دارد تا در ارتباط به تخلفات مرزی که از جانب ایران صورت گرفته است با مقام های ایرانی گفتگو های تازه را انجام بدهند.
محمد یعقوب احمدزی معین وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل افغانستان به روز دوشنبه به رادیو آزادی گفت که این گفتگو ها در آینده نزدیک با یک هیات ایرانی که به کابل می آید صورت خواهد گرفت.
آقای احمد زی به یک سلسله تخلفات مرزی از سوی ایران اشاره کرده و به ادامه چنین گفت:
"قسمی که می دانید فعلاً وضعیت نا امنی در افغانستان حکمفرما است و ایران با استفاده از این موقع برخی تخلفات و تجاوزات را

بقیه در صفحه ۴

دوستم له طالبانو سره د خبرو مخالفت او د غیر متمرکز سیستم ملاتړ وکړ

کابل، رسنۍ:
د شمال د پخوانی ټلوالي درو مشرانو پرون په جرمني کې له څو امریکایي سناتورانو سره په افغانستان کې د فدرالي سیستم په اړه له غونډې وروسته وویل چې دوی له وسله والو طالبانو سره د روانو خبرو مخالف دي ځکه چې په دې خبرو کې برخه نه ده ورکړای شوې.
د جرمني په مرکز برلین کې د څلورو امریکایي سناتورانو په ګډون "افغانستان ۲۰۱۴، فرصتونه او ستونزې" په نوم د کنفرانس په پای کې افغان ګډونوالو په قطر کې له امریکایانو سره د طالبانو د خبرو پر بریالیتوب شک څرګند کړ، ویې ویل: طالبان غواړي چې په دې توګه وخت ضایع کړي.
د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې د ملي جنبش مشر عبدالرشید دوستم، چې د

پاتې ۴ مخ

آمادگی های اطراف درگیر برای مذاکره

اعزامی

صفحه دوم

محمد خلیل

افغانستان یو مرکزي حکومت ته اړتیا لري

له دې واقعیت نه هېڅوک سترګې نه شي پټولې چې افغانستان د خپل تاریخ په حساسه پړاو کې قرار لري. ددې مثال دهغې نیالګی دی چې ایله یې جرړې نیولي وي او مخ پر وده وي، دهغه د سالمې ودې لپاره ددې خبرې ضرورت دی چې بشپړ ساتنه او خدمت یې وشي، پر وخت پارو او اوبه ورته ورکړې شي تر څو جرړې یې مضبوطې او ډډیې قوي شي. څرګنده خبره ده چې د افتونو او توپانونو په وړاندې د قوي ونې مقاومت خورا ډېر وي، نه یې سېلابونه غورځولې شي او نه هم بادونه او توپانونه.

افغانستان په فعلي شرایطو کې یو غښتلي مرکزي حکومت ته اړتیا لري او لدې پرته نه شي کولې چې د خپل وجود مؤثره دفاع وکړي.

داسې یو هېواد چې له دریو لسیزو نه زیات عمر یې په جنګ جګړو کې تېر شوې وي قومي، ژبني او سمتي تعصبونو شیطاني هلې ځلې پکې په عملي ډول رواني وي، د ګاونډیو او نورو مغرضو هېوادو له خوا دهغه د تجزیې لپاره عملي پلان ترلاس لاندې وي هغه هرګز فدرالي نظام نشي زغملې. که څه هم په ډېرو پرمختللیو هېوادو کې فدرالي او ریاستي نظام دواړه شتون لري په کومو هېوادو کې چې فدرالي نظام زیات ګټور دی هلته فدرالي، او په کومو هېوادو کې چې ریاستي نظام زیات ګټور دی هلته ریاستي نظام رائج دی، ...

(پاتې دریم مخ)

چین په اسیا کې د امریکا نوې دفاعي پالیسي رد کړه

آزادي راډیو:
چین د دوشنبې په ورځ په آسیا کې د امریکا نوې دفاعي پالیسي رد کړه او د واشنګټن هغه تورونه چې وایي د چین پوځي پالیسي څرګنده او د اعتماد وړ نه ده بې اساسه وګڼل.
امریکا په خپله نوې پالیسي کې چې د تېرې پنجشبې په ورځ یې اعلان کړه له افغانستان او عراقه خپل پام د آسیا پاسیفیک سیمې ته اړوي.
د امریکا په دغه پالیسي کې راغلي دي چې د چین د پوځي ځواک د ودې تر څنګ باید ستراتیژیک اهداف یې هم څرګند وي، ترڅو په سیمه کې کوم کړکیچ رامنځته نه شي.
د دې په ځواب کې چین وویل چې دغه هېواد سوله ییزې پراختیا او دفاعي پالیسي ته پابندي لري.
د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند لیو ویامین په خپلې معمولي مطبوعاتي غونډې کې خبریالانو ته وویل:
"زموږ د ملي دفاع د ځواک تجدید د ملي امنیت له غوښتنو او پراختیا سره سم ترسره کېږي او د سیمې په امنیت کې فعاله ونډه لري. د پوځي قدرت تجدید او نوی کول هیڅ کوم هېواد ته ګواښ نه جوړوي"

پاتې ۴ مخ

جان مک کین:

عراق به سوی تجزیه به سه کشور به پیش میرود

واشنگتن، رسانه ها:
سناتور جان مک کین، هشدار داد: شرایط در عراق به سوي تجزیه این کشور به سه کشور به پیش مي‌رود و دلیل آن سیاست خارجي بارک اوباما در این منطقه است.
به گزارش گران افغانستان، به نقل از شبکه خبري سي.بي.اس نیوز، جان مک کین، سناتور ایالت آریزوناي امریکا و کاندیداي انتخابات ریاست جمهوري سال ۲۰۰۸ امریکا اظهار داشت: خروج نیروهاي امریکایي از عراق شرایط وخیمي در این کشور را ایجاد کرده است.
وي که در یک برنامه تلویزیوني در شبکه سي.بي.اس شرکت کرده بود، اظهار داشت: شرایط در عراق به گونه‌اي است که این کشور را به سوي تجزیه و ازهم‌پاشید گي پیش مي‌برد، زیرا ما بخشي از نیروهاي خود را در آنجا نگه نداشتیم؛ ریئس جمهور امریکا قول داده نیروها را از عراق خارج کند. ما مي توانستیم بخشي از نیروها را در عراق نگه داریم تا ثبات در این کشور حفظ شود.
وي افزود: هم‌اکنون عراق در حال ازهم پاشید گي است و این احتمال وجود دارد

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

صلح در قطر و جنگ در برلین

سالهای اخیر اشغال شوروی و ناامیدی آنها از تسلط کامل بر افغانستان مصیبت های بزرگی آفرید، آنها زمانی ببرک کارمل را به داکتر نجیب الله عوض نمودند برنامه آنها برای دوام و بقای داکتر نجیب الله به سلطه از جمله ایجاد ملیشه های قومی زمینه تسلط افراد جنایتکار و مجرمین جنگی را بر مقدرات ملت فراهم نمود. با تأسف عدۀ از صاحبنظران و دست اندرکاران سیاست که به زعم خود شان می خواهند برای افغانستان آینده محفوظ، آبرومند و دیموکراتیک طرح بریزند بی آنکه به سوابق قضیه دقت نمایند. و جنایاتی را که اینها آفریده اند و روزهای سیاهی را که بر ملت مظلوم آورده اند در نظر گیرند بجای توجه به بی پناهگاه ماندن رمه به گرسنگی گرگ و هیاهوی آن دل می سوزانند.

طرح فدرالیزم در افغانستان بدون توجه به مفهوم حقیقی آن از جانب شوروی وقت زمانی به اذهان منفعت جویان و سؤ استفاده گران القا گردید که شوروی می خواست افغانستان را به دو بخش شمالی و جنوبی تقسیم نماید آنها به زغم خود شان با جنوب کاری نداشتند می خواستند در شمال نظامی را حفظ نمایند که بتواند حافظ منافع آنها بماند و خطری متوجه به سرحدات جنوبی قلمرو اتحاد شوروی نگردد. اما ملت افغان که یکی دیگری توطئه های شوروی وقت و نوکران آنها را خنثی نمود، جائی برای تطبیق این طرح باقی نگذاشت. شوروی وقت ناچار گردید راه های دیگری را برای ایجاد اختلاف در میان مجاهدین پیش گیرد. از آنجمله این ملیشه های قومی از راه های مرموزی به تنظیم های جهادی از نظر قومی و نژادی نزدیک به خود شان رخ نمودند، که فاجعه آفرین بود و مصیبت آن نه آنکه تا کنون باقیست چشم ما به آینده است که ملت ما چه وقت بتواند از اثرات خرابکارانه این توطئه گران برای همیشه نجات یابد.

اکنون در حالیکه ایالات متحده امریکا برای یافتن یک راه حل غیر نظامی با طالبان و گروه های نظامی مخالف دولت افغانستان در تفاهم مستقیم است و برای دوام مذاکره با آنها در پی گشودن یک دفتر در قطر می باشد و دولت افغانستان باوجود ملاحظات با باز نمودن این دفتر موافقه نموده اند. و طالبان نیز با گشایش آن آمادگی همکاری نموده اند. چند عضو کانگرس امریکا مجلسی را در شهر برلین میزبانی نموده اند که از جمله دعوت شدگان به این اجتماع عدۀ مخالفت خود را با طرح مذاکره با طالبان و مخالفین مسلح دولت اعلان نموده و خواسته اند این اجتماع را منبری برای مخالفت با طرح صلح بسازند. همان صلح که ملت افغان طی دو اجتماع بزرگ از آن تائید و دولت را برای پیاده نمودن آن توصیه نموده است.

می پذیریم که آقای کرزی در دور دوم انتخابات ریاست جمهوری شان با وعده هائی که به این شرکای کمپاین انتخاباتی شان نموده اند وفا نکرده اند و باز رأی همین شرکا بار دیگر همان تیم سابقه دوستان و همکاران شخصی و فامیلی خود را بر مقدرات این ملت مسلط ساخته اند. اما راه جبران این وعده خلافی ها می شود با مخالفت با آرمان صلح و ثبات در افغانستان دنبال شود.

در کشوری که بیشتر از سه دهه است در بحران بسر می برد و پای ارتش پنجاه کشور خارجی در آن سخاوتمندانه کشانیده شده است همسایگان با اشتهای گرگ گرسنه برای بلعیدن آن دهن کشوده اند، بالا نمودن شعار فدرالیزم جز آنکه طمع همسایگان را برای شکستاندن دایمی شیرازه وحدت ملی این کشور بیشتر سازد چه ارمغانی می تواند نصیب این سرزمین سازد.

بار دیگر سوال ما متوجه کانگرسمن آقای داناروورا باکر است که ایشان بحیث یک سیاستمدار کشوری مدعی دیموکراسی و حقوق انسان و حامی آزادی های متضمن یک دیموکراسی بزرگ چگونه در فرصتی که این ملت باید به زخم های خود مرهم گذارد و طرح یک مصالحه سراسری را مورد عمل قرار دهد بجای همکاری با کشور خودش ایالات متحده امریکا و جامعه جهانی و مستحکم شدن نظامی که کشورش ده سال است برای آن قربانی می دهد با مخالفت کامل آن در حرکت است.

فهم آقای داناروورا باکر از فدرالیزم در افغانستان اگر همان تصوری باشد که اوشان در امریکا دارند به خطا رفته اند. همین اکنون در حالیکه نظام مرکزی جمهوری اسلامی افغانستان تحت ریاست آقای حامد کرزی از ده سال باینطرف تسلط دارد در نقاطی که تفنگ سالاران دعوت شده می توانند اعمال نفوذ بنمایند آنهائی که نزدیک به هفتاد سال زمین و خانه دارند در آوارگی بسر می برند، خانه و کاشانه شان مورد دستبرد ظالمانه همین جنایتکاران قرار دارد و آقای کرزی در همین ده سال نتوانسته است آنها را به خانه های شان بر گرداند. اگر اینگونه جنایتکاران به سرنوشت مردم بشکل قانونی آن مسلط گردند مسؤولیت عواقب آنرا آقای داناروورا باکر و تیم همراه شان می توانند بدوش گیرند؟

ملت مسلمان ما از آنهائی که زیر عنوان دوستی با افغانستان مسؤولیت ابتکار همچو اجتماعات را بدوش می گیرند خواهان آنند که قدم های شانرا سنجیده برداشته در حالیکه وحدت ملی تمامیت ارضی و احترام به آراء، عقاید و مصالح این کشور را از نظر دور نداشته باشند بخاطر خرسند ساختن چند فرد افغان که معلوم نیست که از چه کسانی و از چند کس نمایندگی می کنند به لهیب بحران سی و چند ساله در این کشور دامن نه زنند، و نه با شعار آزادی، دیموکراسی و حقوق بشر که توسط خود آنها بالا شده است بازی بنمایند.

بجاست از آنعده شخصیت هائی که از شرکت در این اجتماع ابا ورزیده اند، قدر دانی بنمائیم.

اعزامی

آمادگی های اطراف درگیر برای مذاکره

سید طیب آغا

اخیراً حال و هوای اوضاع سیاسی کشور و منطقه در رابطه به پروسۀ صلح و مذاکره با مخالفین مسلح حاکی از آنست که تمام اطراف درگیر آمادگی خویش را برای ایجاد یک تغیر در روند اوضاع کنونی افغانستان ابراز داشته اند.

جامعۀ جهانی و در رأس ایالات متحده امریکا که بار سنگین مصارف تلفات جنگ جاری در افغانستان را بدوش دارد، در هفته های اخیر با ایجاد یک چرخش غیر مترقبه در سیاست های گذشته اش، به تبانی کشور آلمان در صدد گشایش یک دفتر سیاسی برای طالبان شدند. چون این دفتر بدون مشوره با دولت افغانستان در شهر دوحه قطر درنظر گرفته شده، لذا مقامات کشور ما در وهلۀ اول با گشایش دفتر طالبان در قطر روی خوش نشان نداد و دفتر مطبوعاتی رئیس جمهور با صدور یک اعلامیۀ، تأسیس چنین دفتری را در ترکیه و یا عربستان سعودی مؤثر و مرجح دانست؛ ولی بعدتر به قول منابع نزدیک به دفتر ریاست جمهوری، دولت افغانستان با گشایش دفتر طالبآن در دوحه موافقه کرد و به این ترتیب هم جامعه جهانی و هم دولت افغانستان یک مانع عمدۀ کُندی جریان مصالحه که عبارت از عدم دسترسی به طالبان بود، از سر راه برداشتند. تحولی که گروه طالبان نیز با صدور اعلامیه ای از مذاکرات مقدماتی با مقامات امریکایی خبر دادند و با تائید گشایش دفتر خویش در قطر گفتند که: ما حالا آماده هستیم در کنار حضور نیرومند خود در داخل کشور، برای تفاهم با جامعه جهانی در خارج، دفتر سیاسی داشته باشیم و به همین منظور با برخی کشورها از جمله قطر به صورت مقدماتی تفاهم کرده ایم. همچنان گروه طالبان در همین اعلامیه آزادی اعضای زندانی خود در گوانتانامو را مطرح کردند و دولت امریکا و امارت اسلامی را دو طرف اصلی مذاکرات خواندند. البته این نخستین بار است که گروه طالبان انجام مذاکرات با امریکایی ها را تائید می کند، هر چند سال گذشته نیز مذاکراتی در آلمان و قطر با طالبان صورت گرفته بود، ولی سخنگویان طالبان آن همواره را تکذب می کردند.

این موضعگیری طالبان مصداق عملی اظهارات چند روز قبل جوزف بایدن معاون رئیس جمهور ایالات متحده امریکا است که گفته بود: طالبان الزاماً دشمنان ایالات متحدۀ امریکا نیستند. چنانچه همین تقارب مواضع این دو طرف جنگ مورد استقبال جناب حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان نیز قرار گرفت و نامبرده طی سخنرانی اش در مراسم بزرگداشت از چهلمین سالروز شهادت عبدالصمد خان اڅکزی گفت: ما از اظهارات جوبایدن در مورد عدم دشمنی طالبان با امریکا بسیار خوشحال هستیم و آن را تائید می کنیم، زیرا این اظهارات بیانگر این حقیقت است که دیگر هیچ بهانۀ برای اذیت، آزار و کشتن مردم افغانستان باقی نمی ماند.

از قراین چنان پیدا است که تمامی اطراف درگیری در قضیه افغانستان به این نتیجه رسیده اند که منبعد بجای راه حل نظامی، به یک راه حل سیاسی بیندیشند، زیرا همان طوریکه خسارات و تلفات جنگ ده ساله، اسباب نگرانی و خستگی جامعۀ جهانی را بار آورده، طالبان و سایر مخالفان مسلح نیز از این جنگ صدمات جبران ناپذیری دیده اند و اکنون همه به این نتیجه رسیده اند که با یکسری تنازل ها و بده بستان های سیاسی، پای خود را از ین منجلاب برون بکنند و فقط با دریافت این اطمینان که دیگر افغانستان به مرکز تهاجم علیه منافع آنها تبدیل نمی شود، از کشور ما خارج شده و ادارۀ افغانستان را بخود افغان ها بگذارند.

زمانی را که مقامات امریکایی و ناتو برای خروج نیروهای شان معین کرده اند، خیلی دقیق و سنجیده تعیین کرده اند و طی همین دو سالی که به تدریج نیروهای خارجی از افغانستان برون می شوند، زمین های صلح و مذاکره و بالاخره تشکیل دولت وحدت ملی نیز فراهم خواهد شد و بدین وسیله با خروج نیروهای خارجی، شعله های جنگ و درگیری نیز در افغانستان پایان می یابد و بدیهی است که در فضای صلح و وحدت، به حضور خارجی ها ضرورتی احساس نمی شود.

همزمان با گشایش دفتر طالبان در قطر و آغاز گفتگوی امریکایی ها با طالبان، جناح دیگری مخالفان مسلح (حزب اسلامی تحت رهبری گلبدین حکمتیار) نیز وارد میدان شده و یک هیأت آن حزب با ارائه طرح ۱۴ ماده یی برای پایان یافتن بحران، چند روز قبل وارد کابل شد و بنا به گزارش بعضی رسانه های آزاد هیأت مزبور با مقامات دولت افغانستان و امریکایی ها دید و وادیدهای داشته اند. به گزارش رسانه ها سخنگوی این حزب ضمن اعلان آمادگی حزب اسلامی به مذاکره با امریکایی ها که طرف اصلی قضیه می باشد، هیأت مذکور با بعضی از جناح های سیاسی داخل حاکمیت نیز مذاکراتی داشته اند و بقول او اشخاص و تنظیم های در کابل هستند که با حضور خارجی ها در افغانستان مخالف اند و ممکن است که با آنها به توافقاتی دست یابند.

اگر چه آغاز مذاکرات جامعه جهانی و دولت افغانستان با گروه های مخالفان مسلح، یک امیدواری را برای دستیابی به صلح و سازش بمیان آورده است، ولی این تحول، از سوی دیگر نگرانی های زیادی را دامن می زند، زیرا تنها امریکا و متحدین غربی آن نیست که در قضیه افغانستان دخیل اند، بلکه کشورهای همسایه و منطقه نیز به نحوی از انحا در این بحران دخیل اند و بدون کسب حمایت و توافق آنها مشکل است مطمئن شویم که معضله جاری حل می گردد. زیرا اکثریت پایگاه های مخالفان در کشورهای همسایه قرار دارد و کشورهای منطقه نیز در رقابت با ایالات متحدۀ امریکا و همسایگان افغانستان، در رابطه به قضیه مواضع شفاف و یکسو ندارند و در صورت عدم تأمین منافع شان، می توانند هر آن پروسۀ صلح و مذاکره را اخلال کنند.

معهذا ایجاب می کند که در گفتگوی های مقدماتی جامعه جهانی، کشورهای منطقه و همسایه افغانستان، دولت افغانستان و گروه های مخالف مسلح، با همدیگر سرمیز مذاکره به این توافق برسند که در قدم اول متارکه و بعد بحران جاری را از راه سیاسی حل می کنند و با طرح یک میکانیزم جامع و قابل قبول برای همه اتفاق می نمایند. در غیر آن دید و وادیدهای مخفی، دو بدو، پراگنده و نامنظم نه تنها رسیدن به یک راه حل را دشوار می کند، بلکه اسباب شک و تردید را در ذهن طرف های دیگر قضیه ایجاد نموده و پروسه گفتگو بزودی با مشکلات و موانع عدیده ای مواجه خواهد شد.

د ښځو حقوق به کله تأمینیږي؟

عبیدالله صافي

دا د افغانانو لپاره ډېر د شرم ځای ده چې دلته له ښځو سره د ظلم او بربریت خبرې اوريدل کېږي، په افغانستان کې ډېر لږ نارينه داسې شته چې هغوی د ښځو صحيح حقوق او اهميت پېژني، مګر ډيری نارينه نه د ښځو اهميت پيژني او نه يې حقوق، ان تر دې چې په ډېرو کورونو کې ښځو ته د خبرو کولو اجازه نشته، يو ځوان اولاد خپل مور ته د مشورې ورکولو اجازه نه ورکوي، که يو مور خپل اولاد، او يا مشره خور خپل کشر ورور ته نصحيت وکړي نو په ډېر لويي سره ورته دا خبره کوي چې غلې شه ته ښځه يې، د سړو په کارونو کې ښځې د غږېدو حق نه لري، ته صرف خپل ډوډۍ خوره او له خپل کار سره دې کار لره، موږ پوهېږو او کار مو.

د افغانستان په ډېرو ځايونو کې يوه ځوانه جلۍ نشي کولی چې د خپل پلار او ورور د پريکړې او فيصلې په خلاف خپل ناخوښي ځرګند کړي، مثلاً که چېرته يو پلار د خپلې ځوانې لور نکاح له يو پوخ عمر سړي سره کوي نو لور يې په چوپه خوله منې ځکه چې له وړاندېنه داسې متلونه او خبرې دهغې په غوږ کې اچولې وي چې جلۍ له منلو پرته بله چاره نه لري، د بېلګې په توګه په ډېرو ځايونو کې دا مقوله مشهوره ده چې سړی چا زوړ کړی دی؟ يا نر چا بدرنګ کړی دی، نارينه ټول ښايسته وي، د پلار او ورور په مخکې خبرې کول بې حيايي ده، نو ځکه جلۍ ناچاره د خپل پلار او ورور د فيصلې په وړاندې د قربانۍ ګډوری جوړېږي.

له واده نه وروسته هم غټه قرباني له ښځې نه غوښتل کېږي، ښځه مجبوره ده چې د خپل خاوند هره سپوره ستغه او سختي پرخان تېر کړي، نه د هغه د ظلم په خلاف غږ اوچت کړي او نه د قهر او غصې په خلاف خپل خپګان ښکاره کړي بلکې هر څه دې په پراخه تندې وزغمي. زرګونه ښځې داسې دي چې خاوندانو يې همداسې معلقې او بې سرنوشته پرېښې دي، نه ورته طلاق ورکوي او نه هم په صحيح معنی ښځه کوي. سرونه يې په همدې حالت کې سپين شوي او ځوانې يې خاورې ايرې شوې دی، دغو ظالمو خاوندانو کله هم دهغوی په دې حالت رحم نه دی کړی او همدا يوه خبره کوي چې همدا يې سزا ده.

په ډېرو ځايونو کې دا ظلمونه هم روان دي چې يوه کونډه شوې ښځه پخپله خوښه له چاسره واده نه شي کولی بلکې خامخا به د خپل خاوند په کورنۍ کې له چاسره واده کوي، يو بل غټ ظلم چې د حوا له لور سره کېږي هغه د خپل پلار له جايداد نه محروميت دی، په سلو کې ۹۹ ښځې د خپل پلار د مال او ملکيت له ميراث نه بې برخې دي او که يې وغواړي نو ورونه يې يا په مرګ ګواښي او يا هم له خپل کوره بندوي او مړی ژوندې ورسره شلوي، لنډه يې دا چې زموږ په اسلامي خاوره کې د جاهليت د زمانې په څېر نن هم له ښځو سره سلوک روان دی، دوينزو په څېر ليلا مېږي، خرڅېږي، وهل کېږي او ډبول کېږي، په داسې حال کې چې زموږ اسلام په سپېڅلي دين کې ښځو ته بشپړ حقوق ورکول شوي دي په عزت، ابرو او قصاص کې له سړو سره يو برابر دي. دواړه له يو آدم او حوا نه پيدا شوېدي. الله جل جلاله ښځه د سړي لپاره لباس ګرځولې او سړی يې د ښځې لپاره.

څومره اهميت چې د انسانيت د بقأ لپاره سړي لري له هغه نه زيات اهميت ښځې لري. همدا ښځه ده چې نارينه دهغې په غېږ کې لويږي، پالنه او تربيه يې کېږي، که مور نه وای نو نارينه به څنګه دنيا ته راغلی و او چا به دهغه پالنه او روزنه کړی و؟ همدا ښځه ده چې د انسانيت د پالنې او بقأ اوچته دنده ترسره کوي.

ځکه خو الله تعالی په خپل کتاب قرآن کريم کې داسې لارښوونه کړی ځرنګه چې سړي پر خپلو ښځو حقوق لري همداسې ښځې هم پر خپلو خاوندانو حقوق لري.

رسول الله صلی الله عليه وسلم سړو ته حکم ورکړ چې کوم خوراک څښاک تاسې کوئ هغه خپلو ښځو ته هم ورکړئ او کوم کالي چې تاسې اغوندئ هغه خپلو ښځو ته هم واخلئ. (ابو داود)

ښځو ته اسلامي شريعت باقاعده اجازه ورکړی چې د خپلې خوښې مطابق واده وکړي که څوک دهغې نکاح په زوره له چاسره وکړي نو نکاح يې نه کېږي په بخاري شريف کې حديث دی چې:

تر هغې دې د يوې کونډې ښځې نکاح له چا سره ونه کړی شي تر څو پورې چې هغې په ښکاره ډول خپله رضا او خوښه نه وي ښکاره کړی، همدارنګه د يوې پېغلې نکاح دې تر هغه له چاسره ونه کړی شي تر څو چې له هغې نه اجازه نه وي اخستل شوې.

دلته دا پوښتنه مخې ته راځي چې که چېرته يو پلار خپله کونډه يا ځوانه لور دهغې له اجازې پرته چاته په نکاح کړي آيا نکاح يې صحيح ده او که نه؟

د محمد صلی الله عليه وسلم له حديث شريف نه په څرګند ډول دا ترلاسه کېږي چې نکاح يې نه صحيح کېږي.

په بخاري کې د حضرت خنساء بنت خدام څخه روايت دی چې زه خپل پلار زما له خوښې پرته چاته په نکاح کړم، زه کونډه وم نه مې غوښتل چې له هغه سره واده وکړم، سيده حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ته ورغلم او خپل ناخوښي مې اعلان کړ، نو محمد صلی الله عليه وسلم زما نکاح فسخه کړه.

همدغه راز په ابو داود کې حديث شريف دی چې يوه پېغله جلۍ محمد صلی الله عليه وسلم ته راغله او ويې ويل: زه پلار مې زما د خوښې پرته چاته په نکاح کړم خو زه دا نه خوښوم، نو محمد صلی الله عليه وسلم هغې ته د خپلې دغې نکاح د فسخه کولو او برقرار ساتلو پوره واک ورکړ.

مطلب دا چې که موږ د افغانستان مسلمان ولس په واقعي معنی خپل دين ته رجوع وکړو نو د ښځو د حقوقو په اړه به ټولې هغه لارښوونې ومومو چې الله جل جلاله او دهغه رسول محمد صلی الله عليه وسلم موږ ته کړې دي او عملي کولو په صورت کې به ټول هغه جنګونه او ناخوالې له منځه لاړ شي چې نن سبا د ښځو د حقوقو د تلف له کبله منځ ته راځي، بيا به نه زموږ لور ځورېږي او نه مو خور، مور او ښځې بلکې هر چاته به خپل قانوني حق رسېږي، که الله مکړه موږ خپل ايماني رسالت پوره نه کړو او په عملي ډګر کې ښځو ته خپل شرعي حق ورنه کړو نو ددې لازمي نتيجه به دا راووځي چې موږ پخپل لاس ته ددې خبرې اجازه ورکوو چې زموږ په هېواد کې د خپلې عقيدې او تهذيب وزرونه وغوړوي او زموږ زنانه نسل ګمراه او بې لارې کړي.

افغانستان يو مرکزي حکومت ته اړتيا لري

(د لومړی مخ پاتې برخه)

...خو افغانستان غوندې جنګ ځپلی هېواد چې د جمهوريت جرړې لانه دي قوي شوي يو قوي مرکزي حکومت ته اړتيا لري تر څو په دې سره هېواد ته غښتلې ملي وحدت او مضبوط بنيادونه ورکړي.

ملت دې پخپله فکر وکړي چې په اوسنيو شرائطو کې هېواد په کوم دليل فدرالي نظام ته اړتيا لري او هغه کومې ګټې دي چې فدرالي نظام له لارې افغانستان ته رسيدلې شي؟ ! څرګنده خبره ده چې د فدرالي نظام د پياده کولو لپاره نه قانع کوونکې دلايل موجود دي او نه يې هم ګټې محسوسېږي چې افغانان يې ومني، ددې برعکس رياستي او مرکزي نظام د ګردو هېوادوالو نمايندګي کوي او ټولو وګړو ته په يوه سترګه ګوري د ټولو ولايتونو پرمختګ او ترقي ته هم يو رنګ پاملرنه کوي خو په فدرالي نظام کې د مرکز اثر رسوخ کمېږي ولايتونه خپلې خپلې بوديجې او بجټونه پخپله جوړوي او په ډېرو کارونو کې خپلواک وي په داسې حال کې چې په افغانستان کې د ګوتو په شمېر صرف څو ولايتونه داسې دي چې ګمرکي عوايد لري او يا هم د کښت او زراعت په لحاظ يو څه ښه دي، مګر زياتره ولايتونه، نه ګمرکي عوايد لري او نه هم زراعتي زمکې، باغونه او نور د عوايدو مدرکونه، ښکاره خبره ده چې دا حالت هرګز د افغانانو په ګټه نشي تمامېدلې، په دې سره به يو خو په هېواد کې دننه د قومي او سمتي تعصبونو ګراف اوچتېږي او بل لورې به بهرنيانو ته هم د کرغېړنې لاسوهنې فرصت په لاس ورځي.

په اوسنيو شرايطو کې چې افغانستان له يو عالم داخلي او خارجي ننګونو سره مخامخ دی او يو قوي رياستي نظام ته ضرورت لري، د فدرالي نظام داعيان لدې پرته بل هېڅ مقصد نه لري چې افغانستان عملاً د تجزيې په لور روان کړي، او د هېواد د ابدي دښمنانو هغه ايجنډا عملي کړي چې د افغانستان د تجزيې لپاره يې پاڅونې کړي دي.

د اسلامي تاريخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(څلور ديرشمه او آخري برخه)

س۵۵۷: په کومه نړۍ کې د انګورو حاصلات زيات دي؟

ځ: په اسلامي نړۍ کې.

س۵۵۸: چا لومړی ټوپک جوړ کړ؟

ځ: شيخ ابراهيم وقفي ويلي: مسلمانان لومړي خلک دي چې په ديارلسم قرن کې يي په غرناطه کې د لومړي ځل لپاره ټوپک جوړ کړ.

س۵۵۹: چا لومړی اسلام شرقي اروپا ته داخل کړ؟

ځ: دکتور يوسف قرضاوي ويلي: اسلام د لومړي ځل لپاره اروپا ته په يولسم قرن کې د يو مسلمان فقيه په برکت چې هلته بندي وړل شوی و داخل شو.

س ۵۶۰: د عمربن خطاب لومړی خطبه کومه وه؟

ځ: د عمر بن خطاب لومړی خطبه دا وه، قرآن ولولئ، په دې سره به تاسو پوه شئ، او عمل پري و کړئ چې د قرآن اهل شئ، او خپل ځانونه وتلئ مخکې له دې چې و تلل شئ، او د محشر د ورځې لپاره چې الله پاک ته به په کې وړاندې کيږئ ځانونه ښايسته کړئ، د الله پاک نه هيڅ شی پټ نه دی، هيڅوک دې حد ته نه دی رسيدلی چې د الله نه په سر غړونه کې د ده اطاعت وشي، ما خپل ځان د الله په مال کې د يتيم د کفيل په حيث منلی، که موړ وم د يتيم د مال نه لاس نيسم، او که ضرورت مې درلود نو په نيکۍ سره يې خورم.

س۵۶۱: چا لومړی په خراج (جزيه) کې تاليف کړی؟

ځ: ابو عبيده د معاويه زوي او د يسار لمسی لومړی سړی و چې په خراج (جزيه) کې يي تاليف کړی، وروسته نورو تعقيب کړ او په خراج کې يي تاليف و کړ.

س۵۶۲: چا لومړی لوي ساعت چې څرخ يي لرولو جوړ کړ؟

ځ: مسلمان عالمان لومړی خلک دي چې دا ډول ساعت يې جوړ کړ. د ابراهيم وقفي کتاب (تلک حدود الله) ولوله.

س۵۶۳: چا لومړی د برق اساسات (قواعد) وضعه کړل چې د هغې په اساس (کربرت) خپلې څيړنې ته دوام ور کړ؟

ځ: شيخ ابراهيم وقفي په خپل کتاب (تلک حدود الله) کې ويلي چې مسلمان عالمان لومړي خلک دي چې د برق قواعد يې وضعه کړي.

س۵۶۴: چا لومړی د ځمکې د طبقاتو يعني (جيولوجيا) علم تاسيس کړی دی؟

ځ: زمونږ هغه علماء چې د تيرو او د هغوي د طبيعت په هکله يې څيړني کړي لومړي خلک دي چې د جيولوجيا علم يي تاسيس کړی دی.

س۵۶۵: د هجرت نه وروسته لومړی زمکه چې مسلمانانو پري قبضه و کړه کومه وه؟

ځ: امام محمد ابو زهره په خپل کتاب (التکافل الاجتماعي في الاسلام) کې وايي: لومړی زمکه چې مسلمانانو پري د هجرت نه وروسته قبضه و کړه، هغه د بني نضير مځکه وه، دا کار هغه وخت و شو چې بني نضيرو له پيغمبر عليه السلام سره خپله کړې وعده ماته کړه، او د پيغمبر عله السلام په ضد يي د مشرکانو سره لاس يو کړو، نو پيغمبر عليه السلام دوی د خپل ګاونډ نه و ويستل تر څو د دوی له شر نه په امن کې شي، او په نصوص کې داسې راغلي چې دغه زمکه به چې د بني نضيرو د ويستلو نه وروسته د پيغمبر عليه السلام لاس ته ورغله د مسلمانانو د مصالحو لپاره وقف وي، او په ټولنيز تکافل کې به استعماليږي، يعني ددې حاصل به الله، د الله رسول، د قرابت خاوندانو، يتيمانو، غريبانو، مسکينانو او هغه مهاجرينو ته چې د خپلو کورونو نه ويستل شوي او مالونه يي د منځه تللي دي او همدا رنګه د انصارو د غريبانو لپاره به وي.

نو په دې اساس د بني نضير نه اخستل شوي، مځکه وه او که نور نقليدونکي شيان د نص په رڼا کې د مهاجرينو او انصارو د فقيرانو لپاره وه، تر څو د اغنياو په منځ کې پاتې نه شي. پيغمبر عليه السلام بالفعل د بني نضير نه اخستل شوي منقوله شيان د مهاجرينو او انصارو په فقيرانو توزيع کړل او مهاجرينو ته د انصارو په نسبت زيات شيان ور کړل شول ځکه چې هغوي د خپلو کورونو نه ويستل شوي وو او مالونه يي ضايع شوي وو نو د انصارو په نسبت کومک ته ډير اړين ول. مګر مځکه يي اشخاصو ته توزيع نه کړه، بلکې د خپل لاس لاندې يې پريښوده، دا په دې خاطر چې د دې زمکې حاصل د محدودو کسانو لاس په لاس کې پاتې نه شي بلکې نورو ته هم لار بيامومي. نص د سوره حشر په اوم او اتم آيت کې و ګوره.

س۵۶۶: لومړی حاصل خيزه زمکه چې د مسلمانانو په لاس کې د غنيمت په شکل ولويده کومه وه؟

قبل از آغاز مذاکرات قطر...

افغانستان محسوب می شود. ولی سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان می گوید، زمانی که مذاکرات آغاز شود باید آتش بس صورت گیرد و خشونت ها برضد افغانها باید متوقف گردد.
فیضی این گزارش بعضی رسانه ها را رد کرد که گفته شده بود، حکومت در بدل ختم خشونت ها از سوی طالبان، کنترول بعضی مناطق جنوبی کشور را به دست آنها قرار خواهد داد.
سخنگوی رییس جمهور کرزی همچنان گفته است، حکومت جمهوری اسلامی افغانستان، چنین تقاضا ها را هیچگاه نخواهد پذیرفت.
وی همچنان تاکید کرد که مذاکرات صلح در هر جایی که باشد باید به رهبری افغانها، صورت گیرد.
این همه در حالی است که بر اساس گزارش ها، مذاکرات مقامات امریکایی و طالبان از حدود یک سال به این طرف به کمک آلمان و قطر ادامه داشته، و در آن نمایندگان حکومت افغانستان شرکت نداشته اند.
در این حال محمد اسماعیل قاسمیار معاون روابط بین المللی شورای عالی صلح افغانستان دیروز گفت، این شورا از حکومت افغانستان خواسته است به زودی، هیات را به دوحه بفرستد ولی به گفته ایمل فیضی، حکومت افغانستان تا حال در این مورد، تصمیم را اتخاذ نکرده است.
با وجود آنکه ایالات متحده تلاش دارد، قبل از خروج نیروهایش از افغانستان معضله آن کشور را از طریق مذاکره حل کند، ولی بار ها تاکید نموده که هرنوع مذاکره باید به رهبری افغانها، صورت گیرد.

د برلین غونډې اندېښنې ...

افغانستان په کورنیو چارو کې د بهرنیانو لاس وهنه بولي.
د افغانستان د سیمه ایزو مطالعاتو مرکز مشر عبدالغفور لېوال وایي په برلین کې د یوې ځانګړې ډلې راټولېدل، نا څرګندې موخې لري چې د خلکو اندېښنې یې راپارول دي.
ښاغلی لېوال وایي که د یوې علمي موسسې له خوا کومه غونډه جوړېږي نو هغې ته معمولا ټولنې او څېړونکې وربلل کیږي او هغوی پر مسلو تحلیلي خبرې سره کوي.
که د برلین غونډه یو علمي او څېړنیزه غونډه وي نو ولې یو شمېر پوځي قومندانان وربلل کیږي. د امریکا سفارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي دوی د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ له یوموټي افغانستان څخه پر خپل اوږد مهاله ملاتړ ټینګار کوي اوهرډول ویناوې چې د یادې موخې پرخلاف وي بې بنسټه بلل کیږي. او که دا سیاسي غونډه وي نو ولې د یوه ځانګړي لوري او د ملي ضد نظریې خاوندان پکې راټولیږي، نو ځکه یې جوړېدل د پوښتنې وړ دي.
د افغانستان د خبریالانو د ټولنې مشر عبدالحمید مبارز په وینا دغه راز حرکتونه د افغانانو او نړیوالې ټولنې ترمنځ د بې باورۍ لامل کیږي.
دغه ډول حرکتونه د امریکا، جرمني او انګلستان په وړاندې زموږ د پراخې بې باورۍ لامل ګرځي. دوی باید خپلو خلکو ته اجازه ورنکړي چې د افغانستان پر ضد دا شان خوځښت وکړي او افغان ملت هغه باور چې پر دوی یې کړی بېرته ترې واخلي.
د برلین د غونډې د اصلي موخې په اړه د ملي جبهې ویاند فیض الله ذکي ویلي وو دوی په دې غونډه کې هڅه کړې چې خپل نظر د غونډې له بهرنیو ګډونوالو سره شریک کړي.
د افغانستان ملي جبهه نږدې دوه میاشتې وړاندې د څینو پخوانیو جنګي ډلو په مشرۍ د یوه سیاسي بنسټ په توګه جوړه شوه.
بل پلو د امریکا سفارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي دوی د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ له یوموټي افغانستان څخه پر خپل اوږد مهاله ملاتړ ټینګار کوي اوهرډول ویناوې چې د یادې موخې پرخلاف وي بې بنسټه بلل کیږي.

ایران یک سلسله تخلفات...

مرتکب شده و پوسته را چندی پیش از خاک افغانستان ایجاد کرده است."
این اظهارات در حالی صورت می گیرند که در برخی از گزارش ها آمده اند که ایران در نظر دارد تا برای از میان برداشتن مشکلات مرزی با افغانستان نقاط جدید سرحدی بین دو کشور مشخص و علامه گذاری شوند.
در همین حال تحلیل گران مسایل منطقوی در افغانستان می گویند که ترس و هراس ایران از حضور نیرو های امریکایی در افغانستان و ایجاد روابط دراز مدت استراتیژیک میان کابل و واشنگتن سبب شده است که آن کشور از یک طرف مانور های نظامی را در نزدیک سرحد با افغانستان راه اندازی کند و از جانب دیگر مشکلات سرحدی را با این کشور مطرح نماید.
احمد الله نوید معاون مرکز مطالعات منطقوی افغانستان در صحبت با رادیو آزادی گفت که حکومت افغانستان باید برای حفظ ساحاتی که در سرحد با ایران ارتباط به افغانستان می گیرند پوسته های امنیتی را افراز کند و سعی نماید تا نقاط مرزی میان دو کشور روشن شوند.
"دولت افغانستان مرز های را که متعلق به مردم افغانستان است و خاک این کشور به شمار می رود در آنجا باید پوسته های امنیتی را ایجاد کند و نگذارد که محل رفت و آمد ایرانی ها موجود باشد. آنچه منافع ملی افغانستان ایجاب می کند این است که حکومت افغانستان باید روی این مساله تاکید نماید تا ساحاتی که مربوط به افغانستان است مشخص شوند و با مقام های ایرانی صحبت صورت گیرد."
قرار است یک هیات ایرانی پس از آن به کابل بیاید و در مورد مسایل سرحدی با مقام های افغان صحبت کند که یک هیات افغانی که به تازه گی به سرحد افغانستان و ایران رفته بود با جانب ایران در زمینه پایان یافتن مشکلات مرزی به توافق نرسیده است.
باشنده گان مناطق سرحدی ولایت نیمروز و مقام های امنیتی افغان در ماه میزان امسال پس از آن که مانع ایجاد پوسته مرزی ایران در قلمرو افغانستان شدند، نیرو های مرزی ایران چندین راکت را بر ولایت نیمروز پرتاب کردند.
به اساس گزارش ها از سال های زیادی به این طرف اختلافاتی بر سر مالکیت منطقه در ولایت نیمروز میان نیرو های سرحدی افغانستان و ایران وجود دارند و تا حال به آن راه حل دریافت نشده است.

دوستم له طالبانو سره د خبرو ...

دفاع وزارت درشتیزوال هم دی، وویل، طالبان ممکن له دې لارې هڅه وکړي چې وخت ترلاسه کړي او له افغانستانه د امریکایي پوځیانو له وتلو وروسته بریاوې لاس ته راوړي. جګپوړو امریکایي مامورینو رویټرز خبري اژانس ته وویل چې له لسو میاشتو وروسته له طالبانو سره خبرې حساس پړاو ته رسېدلي او دوی ته به ژر څرګنده شي چې ایا په دې خبرو کې د پام وړ پرمختګ ممکن دی او کنه دی.
دوستم او د پخوانی شمال ټلوالې دریو نورو مشرانو د (دوشنبې په ورځ) په برلین کې د امریکا د کانګریس له څلورو غړیو سره وکتل. دوی د خپلې غونډې په پای کې په ګډه اعلامیه کې په افغانستان کې د غیرمتمرکز سیستم غوښتنه وکړه او د سولې خبرې یې وغندلې.
د دوی په اعلامیه کې او خبري غونډه کې د فدرالیزم یادونه نه ده شوې خو له غیرمتمرکز سیستم څخه یې هدف فدرالیزم ته اشاره ده.
دوستم د برلین په اسپین انستیټیوت کې له کنفرانسه وروسته په یوه خبري غونډه کې وویل: "داسې تصور شته چې طالبان به ممکن د خبرو له پروسې د یوې وسیلې، د امریکا د متحدو ایالتونو د اراملو او تر ۲۰۱۴ پورې په جګړه کې د سوبو لپاره کار واخلي."
دوستم همداراز وویل: "موږ دومره ساده نه یو چې منفي لور ته د وضعیت د بدلېدو په احتمالي حالت کې له صحنې وتل وزغمو.
پرون د عبدالله عبدالله په مشرۍ ملي ایتلاف اعلان وکړ چې د برلین په غونډه کې یې د دې لپاره ګډون ونه کړ چې د هغې د جوړوونکو له نیته خبر نه ول او له بلې خوا په دې کنفرانس کې د افغانستان د فدرالي کېدو پر مسلې بحث کېده چې دا د ملي ایتلاف په تګلاره کې شامله موضوع نه ده.
ملي ایتلاف د مرکزي حکومت د اختیاراتو د کمېدو ملاتړ کوي او وایي چې والیان دې انتخابي وي او ریاستي سیستم دې په صدراتي بدل شي. د برلین په کنفرانس کې همداراز د بلخ والي عطا محمد نور هم ګډون ونه کړ.
خو د دوستم د ملي غورځنګ ترځنګ د وحدت ګوند برخه واخیسته.
په غونډه کې د امریکا د کانګریس هیڅ دیموکرات غړي برخه نه لرله – د کانګریس څلور واړه استازي د جمهوري غوښتونکي ګوند غړي وو.
د کانګریس جمهوري غوښتونکي استازي ډنا روهرابکر وویل، ده او په کانګریس کې ورسره درو نورو ملګرو یې په دې کنفرانس کې د دې وېرې په خاطر برخه واخیسته چې د امریکا متحد ایالتونه به (له طالبانو سره) داسې معامله یا جوړجاړی وکړي چې د نه منلو وړ وي. څرګنده نه ده چې د امریکا د کانګریس دا غړي به څرنګه د خپل ملت په وړاندې د خان دفاع کوي چې ولې له داسې کسانو سره خبرو ته کېښناستل چې د بشري حقونو په سرغړونې او هر یو د زرګونو انسانانو په وژلو تورن دی. جنرال دوستم او محمد محقق د بشري حقونو د ملاتړو ډلو او لوېدیځو رسنیو له لورې په خلونو د زرګونو انسانانو په وژلو تورن شوي دي.
د وحدت ګوند مشر محمد محقق، چې د ولسي جرګې غړی هم دی، د دوستم خلاف له طالبانو سره د سولې مخالفت ونه کړ، ویې ویل: «موږ د خبرو له لارې د سولې مخالف نه یو، د خبرو د میکانیزم او څرنګوالي په برخه کې یو لړ شکونه لرو.»
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت عکس العمل
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د برلین د دې غونډې په اړه وویل چې دوی د کانګریس غړیو ته وړاندیز کړی و چې له افغانانو سره په خپل هیواد افغانستان کې ووینې نه په جرمني کې.
د بهرنیو چارو زوارت ویندویې ویکتوریا نولنډ همداراز وویل چې دوی ټل د کانګریس غړیو ته ویلي چې د ټولو افغانانو له سیاسي استازو سره ووینې نه د خاصې ډلې یا پرګنې له کسانو سره.
دې همداراز وویل چې دا غونډه د بون د کنفرانس په دوام کې جوړه شوې وه او یوه خصوصي غونډه وه چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت نه وه ترتیب کړې.

چین په اسیا کې د امریکا نوې...

هغه زیاته کړه چې سیمه ییزه سوله، ثبات او سوکالي د آسیا پاسیفیک د سیمې د ټولو هېوادونو ګډه ګټه ده.
لیو ویامین وویل پر چین د امریکا د نوې پوځي پالیسي تورونه بې اساسه دي.
د امریکا دفاع وزیر لیون پنیتا ویلي متحده ایالات په آسیا کې د کومې پوځي نښتې اټکل نه لري، خو واشنګټن پر امریکا د سپټمبر د یوولسمې له تروریستي بریدونو وروسته دومره په افغانستان او عراق کې مصروف پاته شو چې په نورو سیمو کې یې د خپل ستراتیژیک موقعیت د رغولو فرصتونه له لاسه ورکړل. د امریکا دفاع وزیر وویل چې د آسیا پاسیفیک د سیمې اهمیت د امریکا د اقتصاد او ملي امنیت لپاره ورځ تر بلې مخ په زیاتېدو دی، نو ځکه امریکا غواړي په دې سیمه کې خپل پوځي موثریت او د اقداماتو آزادي ولري.
په آسیا کې د امریکا نوې پوځي پالیسي هند خپل یو اوږدمهالی ستراتیژیک ملګری ګڼي، چې کولای شي د هند د سمندر د سیمې د امنیت په ټینګښت او اقتصادي پراختیا کې مهمه ونډه ولري.

عراق به سوی تجزیه به سه ...

که شرایط بسیار آشفته درین کشور برقرار شود.
باراک اوباما، رئیس جمهورامریکا در ماه اکتوبر اعلام کرد سربازان امریکایي تا اخر سال ۲۰۱۱ از عراق خارج مي‌شوند.
این تقسیم اوقات پیشتر توسط جورج بوش، رئیس جمهور سابق امریکا تعیین شده بود و مورد استقبال مردم امریکا نیز قرار گرفت، اما برخي از قانون گذاران جمهوري‌خواه با این تصمیم مخالفت کردند و اظهار داشتند: نظام سیاسي و امنیتي در عراق همچنان شکننده است. هم‌اکنون جان مک کین، مي گوید: این نگراني‌ها تبدیل به واقعیت شده است.
وي اظهار داشت: به نظر من روشن و واضح است که یک روند از هم پاشیدگي در عراق آغاز شده که بالاخره به تقسیم عراق به سه کشور منتهي مي‌شود. ما باید بخشي از نیروهاي خود را در آنجا نگه مي‌داشتیم.
مک کین که یکي از مقامات ارشد کمیته نیروهای مسلح مجلس سناي امریکاست، از بارک اوباما به خاطر روش رهبري اش و تضعیف سیاست خارجي امریکا انتقاد کرد.
مک کین گفت: نتیجه‌اي که مي‌توان در حال حاضر به آن دست یافت، بخصوص در مورد عراق این است که امریکا ضعیف است و ما در حال عقب‌نشیني هستیم. این اقدام آثار جانبي دیگري نیز در پي دارد.
مک کین همچنین در خصوص ستراتیژي جدید دفاعي امریکا که هفته گذشته از سوي اوباما، اعلام شد، اظهار داشت: پنتاگون باید از مصارف بیجا خود داری کند، اما در این نهاد "فرهنگ فساد" وجود دارد. براساس ستراتیژي جدید دفاعي، امریکا قرار است اردوی این کشور کوچک‌تر و انعطاف‌پذیرتر شود.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

پاکستان له طالبانو سره پر سوله اندېښمن دی

امریکایي لاس انجلس ټایمز ورځپاڼې له طالبانو سره د خبرو په اړه یو مطلب خپور کړی او د پیل په کرښو کې لیکي، طالبانو چې بیا بیا یې ویلي، چې د سیاسي حل لارې لپاره خبرې کوي یا یې نه کوي، داسې ښکاري چې دا مسله بیا راپورته شوې ده.
یا هم له وروستي اعلاس سره سم داسې بریښي چې دوي به په نږدې راتلونکې کې په قطر کې د ځان لپاره دفتر پرانیزي خو په خبرو کې د ګډون لپاره یو ډاډمن ادرس ولري.
لاس انجلس ټایمز ورځپاڼه لیکي، ان هغوي چې یوې داسې موافقې ته چې هغه به په حقیقت کې وکولای شي د افغانستان جګړه پای ته ورسوي، د دې هېواد تیرو پېښو ته په کتو سره د شک په سترګه ګوري.
ورځپاڼه د بیلګې په توګه د دوپېښو یادونه کوي او لیکي، په ۲۰۱۰ کال کې یوه کس چې ځان یې د طالبانو مهم مشر معرفي کړی او ویلي یې و چې له افغان دولت سره د سولې خبرې پرمخ وړي، په چل یې یوه زیاته اندازه نغدې پیسې غلا کړې او ځان یې ورک کړ، څه کم یو کال وروسته یوه کس چې ځان یې د طالبانو د مشرتابه پیغام رسونکی معرفي کړی و، د افغانستان د سولې د عالي شورا مشر برهان الدین رباني په ځان وژونکي برید کې ووژه.
لاس انجلس ټایمز ورځپاڼه وړاندې لیکي، د طالبانو پر ژمنو د نه اعتماد سربیره یو شمېر نور چې له دې خبرو سره لیواله نه دي او ان نورو مخالفو ډلو د دغو خبرو جدي توب تر پوښتنې لاندې راوستی.
د ورځپاڼې له لیکنې سره سم پاکستان اندېښمن دی چې متحده ایالات به له طالبانو سره یوه داسې معامله وکړي، چې د دې هېواد ګټو ته چې ترهرڅه دمخه په افغانستان کې د هند د نفوذ مخنیوی دی، زیان ورسوي. په دې کارسره به پر طالبانو په تیره بیا د هغوي پر مشرانو د اسلام اباد نفوذ هم کم شي.
د ورځپاڼې په وینا دغه راز په افغانستان کې د نه د شمالي ټلوالې ډلې پخوانیو مشرانو چې پر امریکا د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر له تروریستو حملو وروسته د طالبانو د رژیم په ړنګولو کې امریکا پرې اتکا کړې او هغوي یې پیاوړي کړي هم له طالبانو سره د امریکا د خبرو په اړه شک څرګند کړی.
ورځپاڼې د دې پخواني ایتلاف د یوه مشرد افغانستان د ملي امنیت د ادارې د پخواني ریس امراله صالح چې د دغو خبرو سخت مخالف دی، هغه خبره راخیستې چې ویلې یې دي، یواځنی ښه طالب هغه دی چې وژل شوی دی.

ګارډین:

بریتانوي ګارډین ورځپاڼې په کلیوالي سیمو کې پر افغان محلي پولیسو یا اربکیو د امریکا اتکاد هغه اروپایي متحدین اندېښمن کړي، ترسرلیک لاندې په یوه مقاله کې لیکي، په لیرې پرتو سیمو کې د محلي پولیسو د رول په اړه چې امریکایي له دې هېواده د پوځیانو د وتلو لپاره ډېر مه بولي، د متحدو ایالتونو او د هغه د اروپایي ملګرو ترمنځ درز رامنځته شوی دی.
د ګارډین له لیکنې سره سم د افغان محلي پولیسو له تاسیس یو کال وروسته د امریکا پوځ هغه پلان اعلان کړ، چې له مخې یې د دغو ځواکونو شمېر چې په اوس وخت کې ۹۸۰۰ دی، د ۲۰۱۳ کال تر پایه درې برابره یانې دېرش زرو ته زیاتیږي. له هغې وروسته به هم د دغو ځواکونو د شمېر زیاتېدل دوام ولري.
ورځپاڼه لیکي، د امریکا د ستراتیژۍ له مخې تمه ده دغه وسله وال پولیس به چې پر سپکو وسلو سمبال دي او د خپلو کلیو څخه د دفاع لپاره ګمارل شوي په داسې حال کې چې امریکا او ناټو په راتلونکو دریو کلونو کې محارب ځواکونه له افغانستانه باسي، د طالبانو د حملو مخه ونیسي.
د افغانستان په شمال کې جرمني چارواکو خپلو امریکایي شریکانو ته خبرداری ورکړی، چې دغه محلي ځواکونه به له کنټروله ووځي چې کله د هغوي امریکایي مشاورین او د دوي اصلي مالي تمویلونکي دوي یواځې پرېږدي.

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com